**بسم الله الرحمن الرحيم**

## تر فتحې وروسته هجرت نه کېږي!

**(ژباړه)**

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ وفرمایل:

**«لا هجرة بعد الفتح ولکن جهاد ونیة وإذا استنفرتم فانفروا»**

***ژباړه:*** *تر فتحې وروسته هجرت نشته؛ مګر جهاد او نیت شته؛ هرکله چې پر تاسو غږ وشي (د جهاد عام اعلان وشي)، نو جهاد ته لاړ شئ!*

د جامع الترمذي په شرحه تحفة الأحوذي کې راغلي دي: (**لا هجرة بعد الفتح**) خطابي او نور علماء وایي: د اسلام په لومړیو کې د دې لپاره چې د مسلمانانو شمېر کم و او ټولنې ته یې اړتیا درلوده، نو ځکه مدینې ته هجرت فرض و؛ مګر کله چې مکه فتحه شوه او خلک ډلې ډلې اسلام ته داخل شول، مدینې ته د هجرت کولو حکم ساقط شو؛ خو جهاد او د هجرت نیت د هغه چا لپاره اوس هم پاتې دی، چې په دارالکفر کې ژوند کوي او یا یې دښمن پر خاوره برید کړی وي. پای.

همدارنګه د هجرت د وجوب حکمت دا و، چې مسلمانان د کفارو له ازار او ظلم سره مخ وو؛ ځکه کفارو به هغه مسلمانان ربړول، چې نوي به مسلمان شوي وو، ترڅو خپل دین پرېږدي. نو دغه آیت یې په اړه نازل شو:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى الأَرْضِ قَالُوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا﴾** [97: نساء]

***ژباړه:*** *کله چې پرښتې (د ژوند په وروستیو کې د روح اخیستو په موخه) هغو کسانو ته ورشي او وګوري چې دوی (د کفر په سیمه کې له کفارو سره پاتې دي او د ایمان خاورې ته یې هجرت نه دی کړی) پر ځان ظلم کړی دی، نو دوی ته وایي: تاسو چېرې وئ (چې داسې بېعمله او بدبخته شوي یئ؟ دوی به) وایي: موږ کمزوري خلک (د کفر) په سیمه کې وو (نو ځکه مو د دین اوامرو ته رسیدګي نشوه کولی! پرښتې به ورته) وایي: مګر د الله ځمکه پراخه نه وه، چې هجرت مو ورته کړای وای؟ د دوی هستوګنځی دوزخ دی او هغه ډېر بد استوګنځی دی!*

هغه مسلمانان چې په دارالکفر کې مسلمانان شوي وي او کولای شي چې ورڅخه لاړ شي، د هغوی لپاره هم د هجرت حکم پاتې دی. نسائي دغه حدیث له بهز بن حکیم بن معاویه او هغه یې له پلار څخه او هغه یې له خپل نیکه څخه مرفوعاً روایت کړی دی:

**«لا یقبل الله من مشرک عملا بعد ما اسلم و یفارق المشرکین»**

***ژباړه:*** *الله له اسلام وروسته د مشرک کس توبه نه قبلوي، ترڅو چې له مشرکینو څخه بېل نه شي.*

ابو داوود له سمره څخه مرفوعاً روایتوي:

**«أنا بریء من کل مسلم یقیم بین أظهر المشرکین»**

***ژباړه:*** *زه له هر هغه مسلمان څخه بېزار یم، چې د مشرکینو په منځ (د هغوی په تېولنه او خاوره) کې ژوند کوي.*

دا د هغه کس په اړه دی، چې دین یې په امن کې نه وي.

(**ولکن جهاد ونیة**) طیبي او نور علماء وایي: د دغه په درک کولو سره وروستی حکم له مخکیني حکم څخه بېلېږي او هدف دا دی چې هغه هجرت پای ته رســېدلی، چې معنا یې د مدیني په لوري د خلکو په نزد د غوره وطن پرېښــودل دي؛ مګر د جهاد لپاره د وطن پرېښودل بیا لاتراوسه پاتې دي. همدارنګه د یوه ښه نیت لپاره هم تراوسه هجرت دوام لري، لکه د علم د ترلاسه کولو او یا له فتنو څخه د خپل دین د ساتلو لپاره له دارالکفر څخه وتل او دا سې نور مسایل. (**وإذا ا ستنفرتم فانفروا** ) امام نووي وایي: موخه دا ده، هغه خیر چې د هجرت په ختمېدو سره پای ته رسېدلی دی، په جهاد او صــالح نیت سره یې بېرته ترلاســه کولی شــئ او که چېرې امام امر وکړي چې د جهاد لپاره ووځئ، نو باید حرکت وکړئ.

هجرت یعنې له دارالکفر څخه دارالاسلام ته تلل دي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا** (97) **إِلاَّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلاَ يَهْتَدُونَ سَبِيلاً** (98) **فَأُوْلَئِكَ عَسَى اللّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللّهُ عَفُوًّا غَفُورًا﴾** [نساء: 97-99]

***ژباړه:*** *کله چې پرښتې (د ژوند په وروستیو کې د روح اخیستو په موخه) هغو کسانو ته ورشي او وګوري چې دوی (د کفر په سیمه کې له کفارو سره پاتې دي او د ایمان خاورې ته یې هجرت نه دی کړی) پر ځان ظلم کړی دی، نو دوی ته وایي: تاسو چېرې وئ (چې داسې بې‌عمله او بدبخته شوي یئ؟ دوی به) وایي: موږ کمزوري خلک (د کفر) په سیمه کې وو (نو ځکه مو د دین اوامرو ته رسیده‌ګي نشو کولی! پرښتې به ورته) وایي: مګر د الله ځمکه پراخه نه وه، چې هجرت مو پکې کړی وای؟ د دوی هستوګنځی دوزخ دی او هغه ډېر بد استوګنځی دی! مګر هغه نارینه، ښځې او ماشومان چې په رښتینې توګه بېوسه دي او د وتلو لپاره کومه لاره نه لري، نو هغوی مستثنی دي. کېدای شي چې الله هغوی ته بښنه وکړي، الله لوی بښونکی او تېرېدونکی دی.*

له دارالکفر څخه دارالاسلام ته هجرت دوام لري او پای ته نه دی رسېدلی. امام احمد له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې فرمایلي یي:

**«إن الهجرة لا تنقطع ما کان الجهاد»**

***ژباړه:*** *ترڅو چې جهاد وي، هجرت پای ته نه رسېږي.*

په یوه بل روایت کې راغلي دي:

**«لا تنقطع الهجرة ما قوتل الکفار»**

*ژباړه: ترڅو چې له کفارو سره قتال روان وي، هجرت پای ته نه رسېږي.*

د هغو کسانو لپاره چې توانايي لري، د هجرت حکم په ځينو حالتونو کې واجب او په ځينو کې مستحب دی. مګر که څوک يې توان ونه لري، الله سبحانه وتعالی هغه ته ښښنه کړې او هغه اړ نه دی چې هجرت کړي؛ هغه که د ناروغی له امله وي او يا په جبر د پاتې کېدو له مخې او يا هم د ناتوانی پر اساس لکه ښځې، ماشومان او داسې نور چې هجرت نشي- کولی. لکه څنګه چې د هجرت د ايت په پای کې يې يادونه شوې ده.

همدارنګه پر هغه کس هجرت کول فرض دي، چې خپل دين نشي_ څرګندولی او د اسلام واجبي احکام نشي_ عملي کولی، په داسې حال کې چې د هجرت توان لري. همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا﴾** [نساء: 97]

*ژباړه: کله چې پرښتې (د ژوند په وروستيو کې د روح اخيستو په موخه) هغو کسانو ته ورشي او وګوري چې دوی (د کفر په سيمه کې له کفارو سره پاتې دي او د ايمان خاورې ته يې هجرت نه دی کړی) پر ځان ظلم کړی دی، نو دوی ته وايي: تاسو چېرې وئ (چې داسې بې‌عمله او بدبخته شوي يئ؟ دوی به) وايي: موږ بېوزله خلک (د کفر) په سيمه کې وو (نو ځکه مو د دين اوامرو ته رسيده‌ګي نشو کولی! پرښتې به ورته) وايي: مګر د الله ځمکه پراخه نه وه، چې مو پکې کړی وای؟ د دوی هستوګنځی دوزخ دی او هغه ډېر بد استونګنځی دی!*

همدارنګه د هغه چا لپاره هجرت کول واجب نه دي، بلکې مستحب دي چې خپل دين ښکاره کولی شي او هغه شرعي احکام عملي کولی شي، چې پر نوموړي لازم دي. د مستحب والي دليل يې دا دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر فتحې وړاندې کله چې مکه دارالکفر وه، د هجرت کولو علاقه درلوده. همداراز د نه واجب والي دليل يې دا دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغو مسلمانانو ته چې په مکه کې پاتې شول، اجازه ورکړې وه. وايي کله چې نعيم النحام غوښتل چې هجرت وکړي، نو د خپل قوم بني عدي خلک ورته راغلل او ورته ويې ويل؛ پر خپل دين دې اوسه، خو له موږ سره پاتې شه. موږ له هغو کسانو څخه ستا دفاع کوو، چې غواړي تا ته زيان ورسوي او څه ډول دې چې پخوا له خلکو څخه ساتنه کوله، همداسې يې اوس هم ساتنه وکړه - نوموړي د بني عدي د کونډو او يتيمانو ساتنه پر غاړه درلوده – له همدې امله يو څه وخت پاتې شو او وروسته يې هجرت وکړ. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته وويل: «زما لپاره زما د قوم په پرتله ستا قوم ستا لپاره غوره و. زه مې قوم وشړلم او غوښتل يې ما ووژني، خو ستا قوم له تا څخه ساتنه وکړه او ستا د تګ مخنيوی يې وکړ.» (ابن حجر دغه حديث په الاصابه کې روايت کړی دی) او پکې راغلي چې نعيم النحام وويل: اې رسول الله صلی الله عليه وسلم! ته دې خپل قوم وشړلې، ترڅو د الله تعالی اطاعت او د هغه له دښمن سره جهاد وکړې، مګر زما قوم د هجرت او د الله تعالی د اطاعت په لاره کې زما مخه ونيوله.

**ژباړن: صهيب منصور**